**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا
۲۰۲۳/۰۸/۰۷

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
## پينځم توک
### دوه سوه دوه پينځوسمه پرله پسې برخه
## کندهار

ايديت:
ډاکتر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**نو روز پښه** [1]: ۴۳ – ۳۱، ۱۱ – ۶۸ «ج»: دا د کافرځاه په شمال ختيځ او د سورځنگل د دښتې په شمال لويديځ کې يوه غرنۍ لړۍ ده. «بن»
*په دې نوم يو کوتل د «درختِ يحيی» د سويل لويديځ په تقريباً ۱۰ مايلۍ کې واقع دی. لوړوالی ۲۱۸۴ متره.*
* **نو زاد خيل:** ۳۳ – ۳۱، ۴۴ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ارغسان د کلي په ختيځ کې د لوړه د سيند پر غاړه يو کلی دی.
* **ناري: (ښايي سمه ليکنيزه بڼه ئـــې نرۍ وي – ژ):** ۴۴ – ۳۱، ۳۶ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د خشک په درې کې د سيند له شماله تقريباً ۶ مايله او له سرخاب څخه ۱ مايل ليرې يو کلی دی. په دې نوم بل کلی په ۵۹ – ۳۱، ۵۷ – ۶۵ «ن» کې او دوه نور کلي په ۲۹ – ۳۱، ۳ – ۶۷ «ن» او ۴۸ – ۳۱، ۴۱ – ۶۷ «ن» کې موقعيت لري.
**نرۍ ترخه:** ۱۱ – ۳۱، ۴۳ – ۶۶ «الف»: دا يوه ناله ده چې د «اينځلان» [2] د غرونو له شمالي ډډو راپورته کيږي او له ۱۰ مايلو مزل وروسته له «کافر سنځلې» [3] سره يو ځای کيږي. «بن»
* **نرۍ توی:** ۵۸ ٠ ۳۱، ۲۵ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د شينکی د سويل په تقريباً ۲ مايلۍ کې يو کلی دی.
* **نر غل:** ۲۷ – ۳۱، ۱۸ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ارغسان شمال ته د تللي سړک پر غاړې د «کوغی» [4] د شمال په تقريباً ۲ مايلۍ يو کلی دی.
* **نارغان:** ۱۱ – ۳۲، ۳۸ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د ميزان د ختيځ په تقريباً ۸ مايلۍ کې يو کلی دی.
**نرغاز:** وگورئ: کوغی

[1] - NAOROZ PSHA
[2] - Inzlan
[3] - Kafar Sanzala
[4] - Koghey


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**نارین غر**: ۲۳ ــ ۳۱، ۴۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار او د ارغسان د سیندونو تر منځ یوه غرنۍ لړۍ ده چې له شمال ختیځه مخ پر سویل لویدیځ ځغلي او ټولټال اوږدوالی ئې تقریباً ۱۸ مایله دی او مرکز ته نیږدې تر ټولو لوړه څوکه ئې ۸۲۴۶ فیټه لوړه ده. دا وچ غرونه له ونو محروم دی خو خس او واړهٔ بوټي په کې پریمانه دي او هم یو ډول ځانګړي وابنـــهٔ ډوله بوټي لري چې له پریک کولو وروسته ئــې د پستو د ونو په څانګو کې ځوړوندي چې د ژمي په میاشتو کې ئــې رمې خوري. د نارین په ګاونډ سیمې کې استوګن وګړي الکوزي درانیان دي.

د نارین ناله د دې غرنۍ لړۍ په سویلي مهمیز کې راپورته کیږي او له دوبندي تقریباً ۱۱ مایله کوز کدني ته ورغورځي. دلته یوه ښه لاره راغلې چې د ارغسان په سیند او معروف منتهي کیږي. «بن»

**نشک**: دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس»

**ناصر**: وګورئ: شیږم ټوک

**ناصـر**: ۱۵ ــ ۳۲، ۳۴ ــ ۶۶ «ج»: دا د میزان په ولسـوالۍ کې له سـهلم ۱۰ مایله پورته د ارغنداب په درې کې یو کلی دی. «بیسکو»

**ناصوزي**: نصو زي: دا د الکوزي درانیانو یوه څانګه ده. « بیسکو» په دې نوم دوه کلۍ په ۲۶ ــ ۳۲، ۳۳ ــ ۶۷ «ن» او په ۱ ــ ۳۲، ۴۹ ــ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

**نصـرت زي**: دوی په دوه وو کورنیو ویشـتل سـوي دي یعنی نصـرت زي او «شـاهین چي باشـي»[5]؛ دا دواړه کورنۍ د بارکزي درانیانو یوه برخه ده.

د شاهین چي باشي لقب د « باز یا د باښې د ساتونکو مشر»« قوشچي باشي- ژ» په معنی دی. دا لقب په نصرت زي احمد خان پورې اړه لري او دا لقب ورته احمد شاه «بابا - ع – ژ» ورکړی وو. «بیسکو، آی. بي. سي.»

**نصرت زي**: دا د اڅکزیو اساسي څانګه ده.

**ناوه:** ۵ ــ ۳۲، ۲۴ ــ ۶۷ «ن»: دا د «ارغسان» لوړه «د سیند» د درې لپاره بل نوم دی چې د غلزیو په بیلابیلو څانګو پورې اړه لري او د ترنک له درې څخه د سـرخ کوه په وسـیلې جلا سـوي دي سـرخ کوه د هغې غرنۍ لړۍ ختیځ حد یا کرښه ده چې د «سپین غر»[6] په نوم یادیږی. دا لړۍ په عام ډول له شماله مخ پر سویل پرته ده او په خپلې مرکزي برخې کې له ۳۰ تر ۴۰ مایلو پورې پلنوالی لري. د دې لړۍ په سـویلۍ منتهی الیه کې هوتکیان اوسـیږي، د هوتکیانو سـیمه له وچ بر غوبرک څخه پیل کیږي او تر هغې ناوې پورې غځیږي چې د «ناوهٔ توخي»[7] په نوم یادیږي چې د «سپیر سنګ»[8] د کوتل په مقابل کې واقع ده. په دې پسـې له توخیانو پورته تره کیان راځي چې د درې په ډیرې ارتې او پراخې برخې کې د «ګیرداني»[9] کوتل مخالف لور کې بې شمیره کلي لري. داسې ښکاري چې د درې شمالي برخه د کتواز له ولسوالۍ سره یو ځای سوې ده چې سلیمانخیل په کې استوګن دي. راپورونو ویل چې په ۱۸۸۰ز کال کې د ناوې خلک د برتانوي دولت پر وړاندې له دښمنۍ ډک دریځ درلود. د سرخ کوه په لړۍ کې څو کوتلونه یاد سوي چې د ترنک دره له ناوې سره وصلوي او له ناوې څخه دوه سړکونه تیریږي چې غزني ته تللي دي یو سړک ئــې د غزني ښار له ګومل سره نښلوي او بل ئــې د تره کیانو هغو کلیو ته ورځي چې پورته مو یادونه وکړه. «کلیفرډ، ایوان سمیټ»

«ناوهٔ غـُـــــندان»، «ناوهٔ مارغه» او «ناوهٔ تره کي» د لوړه درې جلا جلا برخې دي، لومړنۍ دوې نالې د قلات غلزایي د ولسوالۍ ناوې دي او وروستۍ ئې په غزني پورې اړه لري. وګورئ: " تره کي" په شپږم ټوک کې.

**ناوهٔ ارغنداب**: ۳۳ ــ ۳۲، ۲ ــ ۶۷: دا قلات غلزایي د ولسوالۍ په علاقو کې یوه علاقه ده، د ارغنداب د درې دا برخه د هزاره ګانو د سیمې او د میزان د ولسوالۍ تر منځ واقع ده. دې علاقه کې ظاهراً قسماً غلزي «چې کیدای سي یو شمیر درانیان هم په کې وي» او قسماً هزاره ګان اوسیږي خو په ټوله کې افغانان «پښتانـــــهٔ - ژ» په شمیر کې مسلط دي. داسې ګومان کیږي چې د ارغنداب ناوه دې ۲۰ مایله اوږده وي او د دې نالې او د هزاره ګانو د سیمې ترمنځ سیمه باید د اولان رباط په اندازې لوړوالی ولري. د ناوهٔ ارغنداب علاقه د قلات غلزایي د ولسوالۍ تر شرحې لاندې راغلې ده. «میتلند»

**ناوهٔ غنډان**: ــ ۳۲، ــ ۶۷: دا د قلات غلزایي د ولسوالۍ یوه علاقه ده. دا علاقه تر خپل اړوند سرلیک لاندې شرحه سوې ده.

* **ناوه خیل**: ۲۲ ــ ۳۳، ۱۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د هلمند د سـیند د سـویل په تقریباً ۳ مایلۍ کې ګیزاب ته نیږدې یو کلی دی.

---

5 - Shahinchibashi
6 - Spin Ghar
7 - Nawa -i- Tokhi
8 - Spir Sang
9 - Girdanai pass


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**ناوه مرغه**: ــ ۳۲، ــ ۶۷: دا د قلات غلزايي يوه کوچنۍ علاقه ده. په دې نوم کلی د قلات غلزايي د شمال ختيځ په تقريباً ۵۰ مايلۍ کې موقعيت لري؛ دا د توخي غلزي د لوی مشـــر کلا ده. دا کلا ۱۲۰ يارډه لوی والی لري، له پخو ختو جوړ ديوالونه ئـــې ۶ فيټه پريړ او ۲۴ فيټه لوړ دي او د کلا په هرگوټ کې يو يو ستر برج او د کلا د ديوالونو د هر مخ په مرکز کې هم يو يو برج جوړ سوی دی. شاه شجاع ډيره هڅه وکړه چې دا کلا ونيسي خو دې کلا ئې پر وړاندې مقاومت وکړ او د بريد تاب ئې راوړ خو برتانويانو دا کلا په ۱۸۳۹ز کال کې د اوترام تر مشرۍ لاندې ونړوله.
کلا ته رسيدل د قلات غلزايي له لوري د يوې تنگۍ اوږدې سختې درې او د يوۀ کوتل له لارې چې د کوژک د کوتل په شان سخت وو تر سره کيدل خو د «کلا خان تره کي» [10] له لوري کومه مانعه نـــۀ لري. ويل سوي چې دا کلی تقريباً له ۲۰۰۰ تر ۳۰۰۰ پورې کورونه، ۱۰۰ هټۍ او د «لوهانيو» ۵۰۰۰ کورنۍ «له کلا – ژ» دباندې لري. د مشر استوگنځی په کلا کې دی چې د ښارگوټي په مرکز کې ده او د دروازې په دواړو اړخونو کې دوه توپونه لري. په کلا کې دننه شپږ يا اووۀ ځاهان سته او گرد چاپير ئـــې د غلزيو او لوهانيو بې شميره کلي دي. دا کلا کله ناکله د عبدالرحمن کلا په نوم هم ياديږي. «براد فوټ»
* **ناوۀ خواجه محـــمد**: ۲۶ ــ ۳۳، ۲۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د خواجه محـــمد د غرۀ په ختيځ کې يو کلی او کنډوالي دي چې په يوۀ تنگي کې واقع دی، دا تنگی د روزگان په درې کې د هلمند د سيند پر لور تللی دی.
**ناوۀ تره کي**: دا په پورتني ارغسان لوړه کې يوه کوچنۍ علاقه ده چې تره کي غلزي په کې ميشت دي. په شپږم ټوک کې د «تره کي» تر سرليک لاندې ئې بشپړه شرحه راغلې ده.
**ناوۀ شيرشاه**: دا د بلوڅ پر سرحد د ۱۲ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»
* **نايک**: ۴۲ ــ ۳۲، ۴ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولايت کې د مير آباد د ختيځ په څو مايلۍ کې د تيرين د سيند پر غاړه يو کلی دی. په دې نوم نور ځايونه په دغو ځايونو کې موقعيت لري: په ۴۹ ــ ۳۳، ۴- ۶۶ «ن» کې؛ په ۴۱ ــ ۳۳، ۴۶ ــ ۶۵ «ن» کې؛ او په ۳۴ ــ ۳۲، ۴۶ ــ ۶۶ «ن» کې.
* **نظر کلا**: ۴۱ ــ ۳۱، ۵۷ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د دامان د شمال په تقريباً ۶ مايلۍ کې د شورک شيلې پر غاړې يو کلی دی.
* **نظر محـمد کلی**: ۵۸ ــ ۳۰، ۱۷ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د سپين بولدک د سويل لويديځ په تقريباً ۷ مايلۍ کې د «زور ماندې» [11] پر غاړې يو کلی دی. په دې نوم بل کلی په ۱۴ ــ ۳۱، ۵۸ ــ ۶۵ «ن» کې موقعيت لري.
* **نيازي**: ۵۱ ــ ۳۲، ۱ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولايت کې د «کاميزان» [12] د ســـيند پر غاړه د چورې د لويديځ په تقريباً ۲ مايلۍ کې يو کلی دی.
* **نيکـــۀ گانو کلی**: ۴۸ ــ ۳۱، ۲۳ ــ ۶۷ «ن»: دا د اتغر په درې کې يو کلی دی چې د زابل په ولايت کې د اتغر د شمال په تقريباً ۵ مايلۍ کې موقعيت لري.
* **نيکنام**: ۳۸ ــ ۳۲، ۷ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د شـکسـته د ماندې او د ارغنداب د سيند د يو ځای کيدنې په ټکي کې د ارغنداب د سيند پر غاړه يو کلی دی.
**نيکو**: ــ۳۱، ــ ۶۵: دا د کندهار د سويل لويديځ په ۶ مايلۍ کې «وله کان» ته نيږدې يو کلی دی. «بيسکو»
**نيکو**: نيکو واله: ۳۷ ــ ۳۱، ۱۷ ــ ۶۷ «ن»: دا د معروف په کليو کې يو کلی دی چې د کند يا د ســـرخاب او د اوبو د هغۀ بهير د يو ځای کيدلو په ټکي کې واقع دی چې د ارغسان له لورې ورسره يو ځای کيږي «دا بهير کله نا کله د کاريز د اوبو د بهير په نوم هم ياديږي» ټوله دره گڼ استوگنې او حاصلخيزه ده. «بومي معلومات، ۱۸۸۷» *اوسنی نقشې د «نيکو وله» [13] نوم يادوي.*
**نيکو څاه**: دا د بلوڅ پر سرحد د ۱۱ خاصه دارانو يوه پوسته ده. « آی. بي. سير. ۱۹۰۵»
* **نيکو زي**: ۲۵ ــ ۳۳، ۱۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولايت کې د گيزان د شمال لويديځ په تقريباً ۵ مايلۍ کې يو کلی دی.
* **نيلي**: نلي: ۴۳ ــ ۳۳، ۸ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولايت کې د «سنگامون» [14] د شمال په تقريباً ۲ مايلۍ کې د رود خوردک د يوې څانگې پر غاړې يو کلی دی.

---

10 - Kala Khan Taraki
11 - Zur Mandeh
12 - Kamizan river
13 - Niku Wola
14 - Sangamun

* **نیمه کۍ**: ۶ ــ ۳۱، ۲۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «خوړاوبي» [15] شـــمال ته د تللي لارې په اوږدو کې د سپین بولدک د شمال په تقریباً ۷ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **نیم روزي**: ۲۹ ــ ۳۲، ۶ ــ ۲۹ «ن» دا د زابل په ولایت کې د «بیغ استي» [16] د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې او د «شین بند» [17] په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.
**نېش**: ۲۵ ــ ۳۲، ۴۰ ــ ۶۵: نېش د کندهار په ولایت کې د یوهٔ کلي او یوې علاقه دارۍ نوم دی. دا علاقه داري ۱۷۴۴ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـــې د وګړو شمیر د ۳۰۲۰ تر ۳۲۶۰ تنو پورې اټکل کړی دی. د دې علاقه دارۍ کربنې: لویدیځ: د دهراوډ، شمال: د تیرین او چورې، ختیځ: د دای چوپان او سویل کې د غورک، خاکریز او د دهلې له ولسوالیو سره ګډې پولې لري. د نېش علاقه داري ۵۵ کلي لري چې هیڅ کلی ئـــې له ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي نـهٔ دي لرلي. لنډ مهالې مجلې د دغو کلیونو نومونه په لاندې ډول ثبت کړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پاتاب کاریز «پټاو کاریز» | تورکمن | خورد زي Khordzai | کاریز ملا ســـالم«عبدالســـلام کاریز ګی» |
| سید کاریز | چار ګنبد | کاریزګی کـُندل | نـَو کاریز |
| کاریزِ خورد | قناتِ چوپان | چوپاني | بَر کـُنډي |
| توغي ناوه «تیري» | غني ګی | کـُندهٔ | زرني |
| غوردنګ | سر داغ | سرپوشان «سرپوشتان» | ګرم آب |
| یخه چینه | رنجانه | دینار خیل | چشمـهٔ ناوه |
| خنجه کک | دوشینه «دوشینه و جوی علی» | ورجاني | سوري |
| باریکه | شاهرک Shahrak | شین کاریز | شاه ویز «شاه ویس – ژ» |
| محل «مؤکل» | جامکِ ناوه | چشمـهٔ چینه | قاسم |
| کاریز میر افضـل «قنات میر افضل» | چار پلنګ | چنارک | والګی Walgai |
| بورګانه «بوره ګانه» | کربوزک Karbozak | حاجي علم | درهٔ نور |
| باغ آغا | غوی مه تان Ghoymatan | شین لیته Shin Laita | شور آب |
| کاریز ګی ملک فیض محمـد «کاریزګی ثاني» | برغنتو | میر بابا | جوی علي |
| آدو/ عدو Ado | ګنډیرجـهٔ ناوه | ګنبدِ ناوه | دِه سواران |
| کاریز حاجي ګی | آمو مسان | شینه | |

دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:
دا سیمه د خاکریز په شمال او د تیرین په سویل کې واقع ده. زموږ د افسرانو د کتنو او ملاحظاتو له مخې د دې سیمې په هکله ډیر معلومات نـهٔ سته. خو دا علاقه داري په خپلې حاصلخیزۍ او ګڼ وګړتوب کې شهرت لري او د کندهار لپاره د اړتیا وړ توکو د برابرولو اساسي سرچینه ګڼل کیږي. دا علاقه داري د کندهار د شمال لویدیځ په تقریباً ۵۰ یا ۶۰ مایلۍ کې موقعیت لري؛ دې علاقه دارۍ ته تر ټولو بنـــه لاره د «پودینه» له منځه راغلې، پودینه د خاکریز په شـــمال ختیځې منتهی الیه کې یوه ناهمواره سیمه ده. ویل سوي چې دا لاره مخ خلاصې او له سره تر پایه د هر ډول وسلو د لیږد لپاره وړتیا لري. «بومي معلومات»
دې سـیمې ته د «ګرم آب» او د «کوتلِ پاج» له لارو د کشـک نخود او میوند له ولسـوالیو څخه لارې راغلې دي. «لینس، لیچ»
ویل سـوي چې په دې علاقه دارۍ کې یو دولتي ګودام سـته چې ۱۰۰۰ خرواره غله لري او ویل سـوي چې په نېش کې ۲۰۰ تنه خاصه داران ځای پر ځای دی. «بومي معلومات، ۱۹۰۵»
**نویال خیل**: یا ناوه خیل: ـــ ۳۱، ـــ ۶۶: دا د کشک نخود په درې کې له قلات غلزایي څخه د ارغسان تر درې پورې د تللې لارې په اوږدو کې له قلات غلزایي څخه ۴۲ مایله لیرې یو کلی دی. «پرایر»

15 - Khozobay
16 - Bighasti
17 -Shin Band


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

* **نـُــــهمـَـــند**: ۴۸ – ۳۱، ۴۷ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د کافر ښاه د سویل ختیځ ته د لارې په اوږدو کې د دروازه ګي د ختیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې یو کلی دی.

**نمروزي**: ۲۹ – ۳۱، ۲۶ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې له بابکر غرۀ ښخه د رشید تر کلا پورې د سړک پر غاړې یو کلی دی.

**نور شهر**: ــــ ۳۱، ــــ ۶۶: دا د خشک رود په درې کې له قلات غلزایي ښخه د ارغسان تر سیند پورې د تللې لارې په اوږدو کې له قلات غلزایي ښخه تقریباً ۴۰ مایله لیرې یو کلی دی. «پرایر»

* **نوري**: ۵۹ – ۳۲، ۱۸ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «خوش خوی» [18] او «اورنګ» [19] تر منځ د کامیزان د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**نور محمد**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د ارغسان پر غاړه له معروف ښخه ۳۰ مایله لیرې او له کندهار ښخه تقریباً ۶۰ مایله لیرې یو کلی او یوه کلا ده.

د ۱۸۷۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې یوۀ برتانوي ځواک چې قلات غلزایي ښخه ئــې د کندهار پر لور مارش کاوۀ په دې کلي کې دمه وکړه. هاغه مهال دلته د اړتیاوړ توکي پریمانه ول.

د معروف یا ماروف ولسوالۍ ته سړک له همدې ځایه تیریږي. پرایر راپور ورکوي چې د کندهار او د دې ځای تر منځ په آسانۍ سره د توپچي ځواک د تګ لپاره عملي ګرځیدلای سي؛ یوازې یوۀ ځای کې راغوندې سوې ډبرې «سورنګ» الوزولو ته اړتیا لري. «پرایر، آی. بي. سي» *په دې نوم نور کلي په ۳۵ – ۳۱، ۴۷ – ۶۵ «ج» او ۳۶ – ۳۱، ۲۹ – ۶۵ «ن» کې موقعیت لري.*

* **نور الدین**: ۳۴ – ۳۱، ۲۷ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سینجیري د سویل لویدیځ په تقریباً ۸ مایلۍ کې د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **نور زي**: ــــ ۳، ــــ ۳۳: دا د روزګان په ولایت کې د کندلان د شمال په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی. په دې نوم بل کلی په ۴۸ – ۳۲، ۳ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.

**نور زي**: ــــ ۳۱، ــــ ۶۵: دا درانیانو یوه ستره او هر لور ته خوره وره قبیله ده چې د کدني په دښته کې ژوند کوي، همدا شان د دوی لویه شمیره په فراه او د هرات په ولایت کې استوګنه ده. لاندنی راپور د پنجاب د دوهم سپارۀ ځواک افسر، جګړن کلیفرډ د معلوماتو له مخې اخیستل سوی دی چې د ۱۸۷۹ز د جنورۍ له میاشتې ښخه د ۱۸۸۰ز کال د مارچ تر میاشتې پورې ئــې د لارو د امنیت بولندوی وو، نوموړي دا فرصت موندلی وو چې په کدني کې د نورزیو له میشتې قبیلې سره له نیږدې آشنایي ومومي:

"دا دره چې له شمال ختیځه مخ پر سویل لویدیځ پرته ده د خواجه عمران له غرنۍ لړۍ سره موازي ده او له یوې شګلنې دښتې ښخه چې د ریګستان په نوم یادیږي له قلات غلزایي ښخه پورته د سامي/ سمي تر غرۀ پورې غځیدلې ده، داسې ښکاري چې دا غر په یوۀ مشخص نوم نـــۀ یادیږي : هغه برخې چې د مشخصو حدودو په وسیلې نـــۀ دي په نښه سوي په بیلابیلو نومونو یادیږي. هغه برخې چې د «کوتک» [20] – کندهار ســړک ســره جوختې دي په دغو نومونو یادیږي: د «کوچني بولدک» [21] او د سړک سویل کې رباط او راواني، کدني یا کدني او «شیرب» [22] په شمال کې.

" نورزي د رباط او کدني په علاقو کې اوسیږي. دوی بزګران دي او په عام ډول شتمن او بډای دي او سوله ناک خوی لري. دوی د امیر لښکر ته د خپلې سهمیې سرتیرو یوه کوچنۍ شمیره د خپلې قبیلې د شمیر له مخې ورکړې ده. له رباط پرته د دوی نورې ځمکې ښــې خړوبې دي چې د کدني د سیند په اوبو خړوبیږي، دوی خپله مالیه چې ۱۰۵۰۰ روپۍ په نغدو او ۱۲۳ خرواره غله کیدله ورکوله. دا محاســـبه د دوی د ځمکې د حاصـــل د یو پر درییمې برخې ســوې ده د دې ترڅنګ دوی د خپلو کورنیو ښارویو مالیه هم ورکوي. دوی د خپلو ګاونډیو اڅکزیو د ظلم، ناتار او ســتم له لاســه ډیر شکایتونه کوي.

"نورزي په لاندنیو فرعي ښانګو ویشل سوي دي :

«دا باید په پام کې ولرو چې دغه ویش له هغې شجرې سره سمون نـۀ خوري چې په لومړۍ شجرې کې تورن مک موهن ورکړی دی او د درانیانو د سرلیک تر ضمیمې لاندې ر اغلی دی.»

---

[18] - Khushkhui
[19] - Aurang
[20] - Kotak
[21] - Kunchai Baldak
[22] - Sherub


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| ځانګي | | د کورنیو شمیر |
|---|---|---|
| پیرک زي | | ۸۰۰ |
| چالاک زي/ چلک زی | Chalakzais | ۳۰۰ |
| جمال زي | | ۲۵۰ |
| کورزي | Korezais | ۲۰۰ |
| سمي زي/ سمیع زي | Samizais | ۱۵۰ |
| ګورک * | Gurak | ۱۵۰ |
| ستانیزي | | ۱۵۰ |
| * د مُرګي، میرانزیو او د سلطانزیو د ځانګو په ګډون | | Murgai, Miranzai, and Sultanzai |

"د کورنیو پورتنی شمیر د ملکانو د مشر او د قبیلي د قاضي د معلوماتو له مخي چي شمس الدین نومیړي ورکړل سوي دي.

" د قبیلي سرکرده ملک اختر خان نومیړي «اوسنی مشر سردار محـــمد عمر خان دی، نوموړی له چمن څخه تر فارس پوري د سرحدي تحدید د کمیسیون لپاره د افغان – برتانوي پلاوی کمشنر وو» او پر خپلي ځانګي سربیره په «جمالزیو» او «کورزیو» [23] کي هم زښـــت ډیر نفوذ لري. نوموړي ته د کابل له دربار څخه د کال ۲۰۰ کندهارۍ روپۍ مســـتمري ورکول کیږي؛ آدم خان ته هم همدومره روپۍ ورکول کیدلي؛ او د ګورک د قبیلي شـــاه پســـند خان ته ۱۲۰ روپۍ. دغه مستمري ظاهراً د مالیاتو د راټولولو په بدل کي ورته ورکول کیږي.

" د ګورک ځانګه په رباط کي ژوند کوي او د خپلي قبیلي تر ټولو بي وزلي خلک دي، د دوی څمکه عمدتاً للمي څمکه ده. پیرک زي او سمیع زي د کدني په شمال ختیځي منتهی الیه کي ژوند کوي، په همدي ځای کي د کدني سیند د خواجه عمران د لړۍ له منځه راوځي. دوی د اوبو ډیري ښـــي ژرندي لري او د نورزیو او اڅکزیو دواړو لپاره د جوارو په ژرنده کولو کي لوی کار و بار لري.

"نورزي کوچیان نـــهٔ دي؛ د دوی یوه شمیره «د دوی دوه پر دریمه» په کیږدیو کي ژوند کوي؛ خو دا ډله نورزي د خپلو څمکو په حدودو کي په لنډ واټن کي کډه او راکډه کیږي. دوی هیڅکله د توبي لوړو سیمو ته د کډه کیدلو جرأت نـــهٔ دی کړی، ځکه په تودې هوا کي اڅکزي منحصراً توبي ته ځي.

"د اخترخان، جمعه خان، آدم خان، هوس خان» چي د لوی کاریز په نوم یادیږي او له حده وتلي سمسور کلي دي» او فتح الله خان «پیرک زي» ټول ګنبدي کورونه لري چي دیوالونه ئـــي له خټو جوړ دي خو اکثریت ئـــي په کیږدیو کي ژوند کوي. په دغو سمسورو کلیو کي یو د پام وړ ټکی د ونو لړوالی دی. نورزي په دې هکله وایي چي دوی ته د ونو لرل بې ګټي دي ځکه چي د دوی وني تل د اڅکزیو له پلوه قطع کیږي.

" یوازي ګورک دي چي اوښان لري خو نوري ټولي ځانګي د پسونو او وزو د رمو د پام وړ شمیره له او یو محدود شمیر ئـــي ښکر لرونکي څاروي لري. دوی د وزو او پسونو له وړیو څخه «کـَــــوسی» [24] د « نیمڅیو کورتی» او ګلیم «زیږي غالی همدا شـــان د غلاتو د لیږد لپاره ګونی» جوړوي. دوی د کمپلو له جوړولو پرته چي په هغو باندي د کیږدیو چتونه پوښي بل کوم صنعت نـهٔ لري. د نورزیو د سیمي وسعت عمدتاً له شمال ختیځه مخ پر سویل لویدیځ ۳۰ مایله په اوږدوالي او په ارتوالي کي له ۱۰ مایلو «د رباط ســویلي برخه» څخه تر ۲۰ مایلو پوري له شـــمال لویدیځه تر ســـویل ختیځه ویل سوی دی.

د کدني نورزي مدعي دي چي دوی په همدې نوم قبیلی سره چي د کندهار او ګرشک تر منځ میشته ده خپلوي لري خو د اخیر الذکري قبیلي په پرتلي سوله ناک خصایل لري. کیدای سي په تر ټولو ټیټ شمیر کي هره کورنۍ اجازه ولري چي درې جنګیالي ولري خو په دې شمیر کي له څوارلس کلن او پینځلس کلن ټیټ هلکان نـهٔ دي شامل ځکه که پر کلي باندي برید وسي دوی مقاومت نـــهٔ سي کولای او شا کوي. د دوی وسلي فتیله یي ټوپک، توري او چړې دي. توري ډیري ښې ساتل کیږي او ډیري تیزي ژۍ لري؛ توري درندي دي او زموږ په نظر له معمولي وزن څخه ډیري درندې دي. فتیله یي ټوپک نرم بوره د ټیټ کیفیت وسلي دي؛ چړې درندې او پلني دي چي هم د شیانو د پریک کولو او په جګړو کي د مقابل لوري د ټپي کولو لپاره کارول کیږي.

" د یادوني وړ ده چي د کدني په درې کي کوم ورهنګر نـــهٔ سته؛ له لرګیو او اوسپنو جوړ اقلام چي ترمیم ته اړتیا ولري باید کندهار ته ولیږل سي." «کلیفرډ»

[23] -Korezais
[24] - kosahs


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نورزي د کدني د سیند پر غاړه ۳ یا ۴ کلي لري، د کدني د مرغه چمن له ژی ښخه د غرونو له منځه راوځي. دا کلي په دغو نومونو یادیږي: کچي، یارو کاریز، انور خان کلا او نور.
سره له دې چې نورزیو د برتانویانو په لاس د افغانستان د سویل د اشغال پر مهال له شک پرته مزایاوې تر لاسه کولې خو د دوی چارچلند معمولاً شکمن وو او په ځو حالاتو کې له دښمنی ډک وو. شک نـــهٔ سته چې د دوی یو شمیر د ۱۸۸۰ز کال د اپریل په میاشـت کې د ډېری پر پوسـتي باندې برید کې بشـکیل ول او په دې برید کې جګړن وَودبای او نورو خپل ژوندونه له لاسه ورکړ. له برید مخکې دا پوسته نورزیو ته په قرارداد ورکړل سوې وه خو له برید څو ساعته مخکې دوی له پوستي ښخه وتلي او تبنتیدلي ول. نورزیو، لږ تر لږه یو شمیر ئـې، په هغـهٔ عام پاخون کې ګډون درلود چې د میوند له بشپړې ماتې وروسته د سرک د غاړې پوستو چمن ته شاتګ وکړ. «میټلند»
هماغســي چې د دې مقالي په پیل کې وویل ســول نورزي د فراه او هرات په ولایتونو کې هم ژوند کوي. د هرات د شاهیوان د ولسوالۍ اکثریت اوسیدونکي نورزي دي؛ د پُښتِ رود په علاقو کې د دوی شمیر ۵۰۰۰ کورنی ویل سوی دی؛ په فراه کې د دوی شمیر ۱۵۰۰ کورنی ښودل سوی؛ او په بکوا کې ۳۰۰۰ کورنی ویل سوی چې اکثریت ئـــې کوچیان دي. د هرات د سبزوار په ولسوالی کې د نورزیو ۱۵۰۰ کورنی دي چې لږ و ډیر ئـي په لویه شمیر کې کوچیان دي چې د سِه درخت او د هري رود په درو کې تګ راتګ لري. «آی. بي. سي.»
**اوبه تو**: ۲۹ – ۳۱، ۲ – ۶۷ «الف»: دا په همدې نامـــهٔ د نالي پر غاړې د بارکزیو د کلیو یوه ډله ده، «دا ناله د سیلسن/ ثالثون د سـیند یوه څانګه ده»، دا ناله له اسـاسـي سـیند سـره د نالي د یو ځای کیدني له ټکي ۴ مایله پورته واقع ده. له دو بندي ښخه را په دې خوا د دمي نیولو ځایونو دا دي: لومړی: جلګه ۱۰ مایله؛ دوهم اوبه تو ۱۳ مایله «بن» *دا نوم د اوبه تو په ډول هم لیکل سوی دی.*
* **اوبو تو**: ۵۰ – ۳۳، ۳۵- ۶۷ «ن»: دا د روزګان د ولایت پر پولي او د غزني په ولایت کې د «فـَرَخ تاله» [25] د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلی کې د «ناوهٔ باتور» پر غاړې یو کلی دی.
**اُهتک** [26]: وګورئ: هوتک
**اولان**: اویان: ـــ ۳۲ ، ـــ ۶۶: اویان د ارغنداب یوه کوچنی څانګه ده چې د میدان د کمپ له سیمي ښخه تقریباً نیم مایل لیرې هغه سرک ئـــې له سره تیریږي چې له د میزان د ولسوالی او د ارغنداب د درې له لارې له قلات غلزایي ښخه تر کندهار پورې تللی دی. له ارغنداب ســـره د دې څانګې د یو ځای کیدلو له ټکي ۲ ۲/۱ مایله پورته د دې څانګې د اوبو ژورل والی د ۱۸۷۹ز کال د فبروری د میاشتي په نیماییو کي ۱ فوټ وو. له دې څانګې ښخه په بې شمیرو ځایونو کې د اوبو لګولو لپاره اوبـهٔ ګرځول کیږي او د ارغنداب پر لور د دې څانګې د بهیدا په اوږدو کې کښته څو بډای او حاصلخیز کلي ودان دي او دا ټوله دره د دهلي د ولسـوالی یوه تر ټولو مهمه علاقه جوړوي. له دې ځایه تر لاسـه کیدونکي پریمانه او په غټ شـمیرکي د اړتیاوړ توکي عمدتاً وریجي او جوار دي چې د دې علاقي بنسـتیز کرهنیز محصـولات دي، دا توکي د محمد رضاء او دین محمد له کلیو ښخه چې د میدان د کمپ د سیمي په ګاونډ کې دي تر لاسه کیدای سي دا کلي د هموارې دښتي پر مخ واقع دي او ګیسلي وایي چې د کمپ دا سیمه یوهٔ لوی ځواک ته ځای ورکولای سي. له بغتو ښخه د میدان واټن د پورته یاد ســوي ســرک له لارې ۸ مایله دی، بغتو د ســیند په برنی برخې کې د دمي نیولو لپاره تر ټولو نیږدې ځای دی؛ او د کندهار پر لور بله د کمپ سیمه «مردوزي» ده چې واټن ئـي ۱۵ مایله دی. دا علاقه چې د میدان په نوم هم پیژندل کیږي د علي زیو او پوپلزیو د استوګنې سیمې دي. «بیسکو، ګیسلي، آی. بي. سي.» په دې نوم یو بل کلی په ۵۶ – ۳۱، ۳۴ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.
* **اولنګ**: ۵۲ - ۳۳، ۳۳ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د کوهٔ سفید په شمال ختیځ کې، جوز ته نیږدې د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې یو کلی دی.
* **اولم باغ**: ۵۱ – ۳۲، ۳۰ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د دهراوډ د شـــمال په تقریباً ۱۵ مایلی کې د هلمند د سیند پر غاړه یو کلی دی.
* **الوم کلی**: اولوم کلی: ۴۱ – ۳۲، ۳۰ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د ګیزلاب د ســویل په تقریباً ۷ مایلی کې یو کلی دی.
* **امید**: ۴۴ – ۳۳، ۴۹ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «ایســکان» د شـــمال ختیځ په ۳ مایلی کې او د هلمند د سیند د شمال په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.

## نور بیا

[25] -Farakh Tala
[26] -OHTAK See HOTAK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## ارزگان: اروزگان: «روزگان»....

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ